# د مقدس کتاب بنیادي تعلیم



۴۵ د رنګین تصویرونو

# د مقدس کتاب بنيادي تعليم

اول چاپ ۲۰۰۰

Pashto *Basic Bible teaching*

First Printing 2000

The positives for the coloured pictures and the text, adapted and translated into Urdu, were printed with permission from Gospel Recordings, Anc., Australia. The script \message in this booklet has been recorded on Gospel Recordings cassettes: GAV-٨ for Punjabi; and GAV-٩ for Urdu. Permission was also given for the printing of the set of ٤٠ charts of the pictures (١٤''X١٦'').



## خدای د دنیا له پیدا کیدو نه مخکې وجود درلود

په شروع کې انسانان، ځناور، سمندرونه، لمر، ونې او هیڅ شی موجود نه وو. هره خوا تیاره وه. یوازې پاک خدای موجود وو. نو خدای په دنیا کې هر شی لکه آسمان، ځمکه، لمر، سپوږمۍ، څاروي، بوټي، ونې، سیندونه، غرونه او انسانان پیدا کړل.

یشعیاه ۴۵: ۲۱-۲۲، اول تسالونکیان ۱: ۹، یوحنا ۴: ۲۴، اول یوحنا ۱: ۵، ۴: ۸، پیدایښت ۲۱: ۳۳، زبور ۹۰: ۲، ۱۲۱: ۴.



## پاک خدای د خپل مقدس کتاب له لارې مونږ سره خبرې کوي

د مقدس کتاب په ذریعه خدای مونږ سره خبری کوی. مقدس کتاب مونږ د خدای په هکله پوهوي. خدای ټولو خلکو سره مینه لري. د خدای مقدس کتاب مونږ ته د خوشالي او اطمینان د حاصلولو زیری راکوي. ټول شیان په مقدس کتاب کې ښودل شویدي.

اول پطروس ۱: ۲۵، یوحنا ۱۷: ۱۷ ۲۰: ۳۱، رومیان ۱۵: ۴، عبرانیان ۴: ۱۲، لوقا ۱۱: ۱۸، زبور ۱۱۹: ۸۹، ۱۲۰، دویم تیموتیوس ۲: ۱۵.



## پاک خدای ټول شیان پیدا کړل

پاک خدای هر قسم ونې او څاروي پیدا کړل. هر شی چې پاک خدای جوړ کړی وو هغه ښه وو. پاک خدای انسان هم پیدا کړو. او خدای انسان په ځمکه باندې د هر څه مالک کړو.

پیدایښت ۱: ۳۱، ۲: ۲۰-۲۲، ۱۴: ۱۵، اعمال ۱۴: ۱۵، زبور ۳۳: ۶-۹، مکاشفه ۴: ۱۱، اول تیموتیوس ۶: ۱۷.



## د پاک خدای له امر نه د آدم او حوا سرغړونه

لمړنی انسانان آدم او خوا وو. دوی په خوشالۍ سره د عدن په بڼ کې شپې او ورځې تیرولی. پاک خدای دوی ته حکم وکړ چې د بڼ له هرې ونې نه تاسو میوه خوړلی شي بغیر د هغه ونې نه کومه چې د بڼ په مینځ کې ده. ولې آدم او حوا د هغه ونې نه میوه وخوړه او د دې نافرمانړ په سبب هغوی ګناه وکړه. نو د دې ګناه په بدل کې خدای هغوی ته جزا ورکړه. او هغوی ئې د عدن د بڼ یعنې جنت څخه بهر کړل او له هغه وخت نه ټول خلک د ناروغیو، غم او مرګ ښکار شویدی. ولې بیا هم خدای د انسانانو سره مینه لرله او خپل ځان ته د نژدې کولو نقشه یې جوړه کړه.

پیدایښت ۲: ۱۲-۱۷، ۳: ۱-۲۲، رومیان ۵: ۱۲، زبور ۸: ۳.



## قائین خپل ورور هابیل مړ کړو

آدم، حوا او د هغوی اولاد ټول د خدای نه جدا شول. قائین او هابیل دواړه د آدم او حوا زامن وو. قائین خپل ورور هابیل نه نفرت کولو او هابیل ئې مر کړو. هغه ګناه چې آدم او حوا کړی وه د هغوی اولاد هم په کې شامل شو. په دې وجه مونږ ټول ګناه ګار او د جزا وړ یو.

پیدایښت ۴: ۱-۲ ، ۸، ۲: ۱۱، اول یوحنا ۳: ۱۲، رومیان ۱: ۲۸-۲۹، ۳: ۲۳.



## د نوح د کشتۍ جوړول

د آدم اولادې پر له پسې ګناه کولو سره ژوند تیرولو. مګر پاک خدای دوی ته د یو لوی طوفان په ذریعه د سزا ورکولو فیصله وکړه. مګر یوازې نوح وو چې د خدای امر به یې منلو. پاک خدای نوح ته د یوې کشتی د جوړولو امر وکړ تر څو هغه له طوفان څخه بچ شی. کله چې کشتۍ جوړه شوه نوح او د هغه کورنۍ کشتۍ ته ننوتل. خلکو د شروع نه د نوح کارونو پورې خندا کوله. ځکه د هغوی دا یقین نه وو چې پاک خدای به دوی هلاک کړي.

پیدایښت ۲: ۲-۱۰، ۱۴-۱۸، عبرانیان ۱۱: ۷، دویم پطروس ۳: ۹.



## پاک خدای د نوح کورنۍ له طوفان نه بچ کړله

باران په ډیر شدت سره راووریدلو. او پدې وجه یو ډیر لوی سیلاب راغی. هر څه په اوبو ډوب شول. او هم ټول هغه خلک چې له کشتۍ نه بهر وو په اوبو کې ډوب شول. ځکه چې هغوی په خدای ایمان نه لرلو. یوازې حضرت نوح او د هغه کورنۍ له طوفان نه بچ شوله، ځکه چې هغوی په پاک خدای ایمان لرلو. یوازې حضرت نوح او د هغه کورنۍ له طوفان نه بچ شوله، ځکه چې هغوی په پاک خدای ایمان لرلو. او د هغه حکمونه به یې منل. کله چې طوفان خلاص شو، اوبه وچې شوی او په آسمان کې یوه لیندۍ چې د شنې زرغونې په نوم یادیږي ښکاره شوه. دا د پاک خدای له خوا یوه وعده وه چې نور به انسانان پدې ډول نه هلاکوي.

پیدایښت ۷: ۱۷-۲۳، شماره ۲۳: ۱۹، لوقا ۱۷: ۲۷، متی ۲۴: ۳۷.



اسحاق د ابراهيم او سارا زوی وو

ابراهيم د نوح له قبيلې نه وو. هغه ډير راستکاره وو. ابراهيم او د هغه ښځه سارا دواړه ډير زاړه شوي وو. خو څنګه چې خدای هغوی سره وعده کړې وه د سارا يو زوی پيدا شو چې نوم يې پرې اسحاق کيښودو. پاک خدای وعده وکړه چې د اسحاق له نسل نه به يو بچ کوونکی دې دنيا ته راځی او د خلکو ګناهونه به په خپله غاړه اخلي. هغه بچ کوونکی زمونږ مالک حضرت عيسی مسيح دی.

يعقوب ۲: ۲۳، روميان ۴: ۲۰-۲۱، پيدايښت ۱۷: ۲، ۲۱: ۲۲.



## پاک خدای حضرت موسی ته شریعت ورکړو

موسی د ابراهیم او د اسحاق له قبیلې نه وو. موسی په پاک خدای ایمان لرلو. پاک خدای موسی ته حکم وکړو چې غرۀ ته لاړ شه. هلته پاک خدای موسی ته شریعت ورکړو. بیا موسی له غر نه راښکته شو او خلکو ته یې د پاک خدای شریعت ورکړو. پاک خدای وویل چې ټول خلک به زما شریعت مني.

زبور ۱۰۵: ۲۲، خروج ۱۹: ۱۷، ۲۴: ۱۲، ۳۲: ۱۵-۱۶، یعقوب ۲: ۱۰.



# د پاک خدای لس حکمونه

هغه احکام چې پاک خدای موسی ته ورکړل دا دي، پاک خدای فرمایلی دي چې:
د بتانو یا د نورو شیانو بندګي مه کوی.
د پاک خدای د عبادت لپاره په هفته کې یوه ورځ کار مه کوی.
اولاد باید د خپلو والدینو حکم ومني.
هیڅکله دروغ مه وایی.
قتل مه کوی.
د خپلې ښځې په موجودیت کې د بل چا ښځې ته نظر مه اچوی.
د چا مال مه غلا کوی.
د نورو خلکو شیانو ته سترګی مه نیسی.
او حرص مه کوی.

خروج ۲۰: ۳-۴، ۱۲-۱۷، حزقیال ۱۱: ۱۹.



د ګناه لپاره قرباني کول

د پاک خدای قوانین ماتول ګناه ده. خو مونږ ټولو د پاک خدای قوانین مات کړی دي. پاک خدای پوهیږي چې مونږ څه کوو، خو بیا هم هغه مونږ سره مینه کوي. د ګناه بدل مرګ دی. د حضرت موسی په وخت کې د انسان د ګناه په ځای ګډوری قربان کیدلو. خو نن ورځ مونږ ته د دې ضرورت نشته ځکه چې حضرت عیسی مسیح په خپله د خدای ګډوری شو. ځکه هغه زمونږ د ګناهونو د سزا پورته کولو لپاره مصلوب او مړ شو او خپله بې ګناه وینه یې زمونږ لپاره تویه کړه.

حزقیال ۱۸: ۴، احبار ۴: ۳۲-۳۵، عبرانیان ۹: ۲۲، یوحنا ۱: ۲۰، اول یوحنا ۱: ۹.



د پاک خدای فرښته یوسف او مریم ته راښکاره شوه

د پاک خدای فرښته "جبرائیل" پیغلې مریم ته راښکاره شوه او ویې ویل چې د خدای د روح القدس په قدرت سره به ته حامله کیږې او ستا به زوی پیدا کیږی او ته به د هغه نوم عیسی کښیږدی، هغه به نجات ورکونکی وي. بیا د خدای فرښته یوسف ته هم په خوب کې ورغله د چا چه مریم سره کوژده شوی وه. او فرښتې هغه ته وویل: چه مریم به نه پریږدی ځکه د هغې ماشوم د خدای له طرفه دی.

ګلیتیان ۴: ۴، لوقا ۱: ۳۰-۳۱، متی ۱: ۱۸-۲۳، فلیپیان ۲: ۸.



## د فرښتو لخوا د حضرت عیسی د زیږیدلو زیری

یوسف او مریم دواړه بیت الحم ته لاړل او د عیسی مسیح د پیدا کیدو وخت راورسیدو. هغه په طبیله کې پیدا شو او په اخور کې یې اوده کړی وو. په هغه شپه فرښته شپنو ته راښکاره شوه او هغوی ته یې وویل چې ستاسو لپاره یو نجات ورکونکی د بیت الحم په ښار کې پیدا شویدی. بیا هغوی زر بیت الحم ته لاړل او حضرت عیسی ته یې سجده وکړه. او حضرت عیسی دنیا ته د خدای د هغه وعدې د پوره کولو لپاره راغلو کومه چه خدای انسان سره کړی وه.

لوقا ۲ : ۷-۱۰ ، متی ۱ : ۲۱ ، رومیان ۱۰ : ۹.



## عیسی مسیح لوییدو او قدرت یې زیاتیدو

عیسی مسیح چې دولس کلن شو نو مذهبي مشرانو سره یې بحث
وکړو. هغه به د خدای په هکله خلکو ته معلومات ورکول. ځکه چې
هغه د خدای زوی وو. کله چه هغه دیرش کلن شو نو خلکو ته به یې
تعلیم ورکولو. بیا پاک خدای وویل "چه دا زما زوی دی او د ده
خبرې واری" ډیرو خلکو په هغه ایمان راوړو.

لوقا ۲: ۴۰-۵۲، یوحنا ۵: ۳۴، ۲: ۳۸، متی ۱۷: ۱۵، مرقوس ۸:
۳۸.



## د هغه د معجزو نه د هغه خدائی طاقت ښکاره شو

د عیسی مسیح په اوبو ګرځیدل. د یوې مړې جینۍ بیا راژوندي کول، د یو ړوند سړي بینا کول. ناپاکو روحونو به د هغه حکم منلو. کله چه خلکو د هغه معجزې ولیدلي نو هغه پسی روان شول.

اعمال ۱۰: **۳۸**، لوقا ۸: **۵۴-۵۵**، مرقوس ۱: **۳۴**، **۲**: **۴۸-۵۱**، یعقوب **۵**: **۱۵**.



## عیسی مسیح په ځان تکلیفونه تیر کړل

پدې وخت کې په زر ګونو خلکو د عیسی مسیح پیروي کوله. او هغوی غوښتل چه عیسی مسیح خپل بادشاه جوړ کړی. خو عیسی د دې دنیا بادشاهي نه غوښتله. د یهودیانو سردار عیسی مسیح محاکمې ته راوغوښتو. عسکرو عیسی وهلو او په هغه پورې یې خندا کوله. او بیا هغوی د اغزو تاج هغه ته ور په سر کړو. او عیسی مسیح نه د هغوی مقابله وکړله او نه یې د تښتیدلو کوشش وکړلو. ځکه چه هغه دغه سزاګانې د نورو د ګناهونو په بدل کې تیرولی.

متی ۲۷: ۱۸-۲۲، ۲۲-۲۹، اول پطروس ۲: ۲۲، دویم تیموتیوس ۲: ۳.



## د عیسی مسیح وینه زمونږ د ګناهونو لپاره تویه شوه

عسکرو د هغه په لاسونو میخونه ووهل او بیا یې په صلیب پورته کړو. د هغه وینه بې ګناه تویه شوه او په صلیب یې سا ورکړه. پدې وخت کې یو سپاهي وویل "بیشکه دا د خدای زوی وو." د عیسی مسیح د مرګ نه وروسته د هغه دوستانو د هغه مړی له صلیب نه را ښکته کړو. بیا یې په کفن کې تاو کړو او په قبر کې یې کیښود او د قبر خوله کې یې یوه لویه تیږه کیښوده.

اعمال ۲: ۲۳، رومیان ۵: ۸، اول کورنتیان ۱۵: ۳۲، افسیان ۱: ۷، اول پطروس ۱: ۱۸.



## د هغه په بیا ژوندی کیدو سره مرګ ماتې وخوړه

د عیسی له مرګ نه درې ورځې وروسته د هغه دوستان قبر ته راغلل او وئې لیدل چه هغه لویه تیږه د قبر خولې نه یوې خوا ته غورزیدلی او قبر خالي دی. یوازې کفن هلته پروت وو او د حضرت عیسی مړی نه وو. پدې وخت کې د خدای فرښته دوی ته راښکاره شوه او هغوی ته یې وویل چه عیسی مسیح دلته نشته هغه بیرته راژوندی شویدی. بیا دوی ته ور په یاد شول چه حضرت عیسی دوی ته فرمائیلی وو چه: "زه به په دریمه ورځ راژوندی کیږم."

اول کورنتیان ۱۵: ۴، مرقوس ۱۲: ۲، رومیان ۴:۲۵، ۲: ۹، یوحنا ۱۴: ۱۹.



ډيرو خلکو عيسی مسيح ژوندی وليدلو

د عيسی مسيح يو شاګرد توما وويل تر څو چې زه د هغه د لاسونو او پښو ټپونه ونه ګورم ايمان نلرم چه عيسی به بيا ژوندی شوی وی. پدې وخت کې عيسی مسيح توما ته نژدې راغلو او هغه ته يې خپل زخمونه وښودل. نو بيا توما په هغه ايمان راوړو. خو عيسی مسيح غواړی چه مونږ د هغه د کتلو نه بغير په هغه ايمان راوړو.

اعمال ۱ : ۴، يوحنا ۲۰ : ۲۴-۲۵ ، ۲۷-۲۸ ، اول پطروس ۱ : ۸، عبرانيان ۱۱ : ۶.



## عیسی مسیح آسمان ته پورته شو

کله چه عیسی بیا راژوندی شو تر څلویښتو ورځو پورې خپلو شاګردانو سره وو او په څلویښتمه ورځ هغه د خپلو شاګردانو سره د یوه غره سر ته وختلو او هغوی ته یې وویل: زه اوس آسمان ته ځم. زما د تللو نه وروسته خلکو ته ووایی چې ما خپل ځان د هغوی د ګناهونو د سزا د لرې کولو لپاره مصلوب کړو. هر څوک چه زما امر ومني هغه به وبښل شی او هغه به آسمان کې زما سره وی. بیا هغوی تر ډیره وخته حضرت عیسی لیدلو چه آسمان ته ختلو.

اعمال ۱: ۱۰-۱۱، رومیان ۸: ۳۴، یوحنا ۱۴: ۲، مرقوس ۱۲: ۱۵.



## په صلیب باندې د هغه د قربانۍ په وجه مونږ خلاصون ومونډلو

صلیب مونږ ته د عیسی مسیح مرګ رایادوي. هغه هیڅ ګناه نه وه کړې. هغه زمونږ د ګناهونو په خاطر په صلیب باندې مرګ قبول کړو او د نورو خلکو د ګناهونو د پاره یې سزا برداشت کړله. دا هغه قرباني وه چه پاک خدای ورڅخه راضي وو. هر کله چه مونږ د خپلو ګناهونو اعتراف او اقرار وکړو او په عیسی مسیح باندې ایمان راوړو نو زمونږ ګناهونه به معاف شي.

حزقیال ۱۸ : ۴، اول پطروس ۲ : ۲۴ او ۳ : ۱۸، عبرانیان ۹ : ۲۲، افسیان ۲ : ۹.



## په ژوند کې کومه لاره غوره کوئ؟

حضرت عیسی مسیح د دو لارو ذکر کړیدی، چه یوه یې پراخه او بله نرۍ لار ده. پراخه لار د بدو خلکو او د ګناهونو لار ده نو هر انسان پدې لار تللو ته تیار دی ځکه چې ډیره آسانه لار ده. خو دا لار انسان د هلاکت خوا ته بوځی. که چیرته څوک غواړي چه په عیسی مسیح باندې ایمان راوړي او د هغه په حکمونو عمل وکړي نو هغه انسان دې پراخه لار پریږدی او په نرۍ دې لاړ شی کومه چه د عیسی مسیح لار ده. نرۍ لار انسان د ابدي ژوند خوا ته بیایې کوم چه د پاک خدای سره ده. آیا تاسو په عیسی مسیح باندې ایمان راوړل غواړئ؟ هر انسان اختیار لري چه پراخه لار خوښه کړي یا نرۍ لار.

یرمیا ۲۱ : ۸، متی ۷: ۱۳-۱۴، اول یوحنا ۲ : ۱۵



## د خدای په کورنۍ کې ټول قومونه شامل دي

کله چه عیسی مسیح خپل ځان قربان کړو نو پاک خدای د انسان د ګناهونو په بدل کې د څارویو قربانی بنده کړه. او خدای یوه نوې دروازه د انسان لپاره خلاصه کړه چه د دغه دروازې په ذریعه انسان خدای ته ورسیږي. پاک خدای غواړي چه هره قبیله او قوم د هغه په لاره لاړ شي. آیا تاسو د خدای په کورنۍ کې شاملیدل غواړئ؟ هر کله چه مونږ پاک خدای ته د پلار په حیثیت آواز وکړو نو هغه مونږ ته د خپل اولاد حیثیت او حق رابښي.

یوحنا ۳: ۱۶، ۶: ۳۷، ۱۰: ۹، ۱۴: ۶، اعمال ۱۷: ۳۰.



## د پاک خدای له روح څخه نوی ژوند په لاس راځي

عیسی مسیح یو مذهبی استاد نیکودیمس ته وویل چه د خدای د بادشاهی د پاره نوې زیږیدنه ضروری ده. صرف روح القدس دی چه زمونږ زوړ ژوند ته تغیر ورکوي او مونږ ته نوې ژوند راکوی. مونږ خپلو ځانونو ته بدلون نه شو ورکولی. ځکه چه مونږ ګناهګار یو. که چیرته مونږ توبه وکړو او په خپلو ګناهونو اعتراف وکړو نو ګناهونه به مو وبښل شي. او بیا به د پاک خدای روح په مونږ باندې وي.

یوحنا ۳: ۳، ۵، ۲، رومیان ۸: ۹، یشوع ۲۴: ۱۵.



## روح القدس مونږ ته قدرت راکوی

حضرت عیسی مسیح په صلیب باندې مړ شو او بیا ژوندی شو او آسمان ته وختلو له ده نه وروسته د هغه شاګردان به یو ځای جمع کیدل او په شریکه به یې دعا کوله. روح القدس په هغوی باندې یو دم نازل شو او هغوی ته یې قوت ورکړو چه هغوی نورو ته د عیسی مسیح په هکله معلومات ورکړي. روح القدس هغوی سره د پاک خدای د کلام په پوهولو کې مرسته کوی. که چیرته تاسو عیسی مسیح د خپل بچ کونکی په حیث قبول کړی وی نو پاک خدای به تاسو ته روح القدس درکړي چه د هغه په لارښونه به خپل ژوند تیروی.

یوحنا ۱۴: ۱۲-۱۷، ۱۵: ۵، اعمال ۱: ۸، ۱۴، ۲: ۱-۴، ۳۹، ۴: ۳۱.



د حضرت عیسی مسیح سره په رڼا کې ژوند تیر کړه

په عیسی مسیح باندې له ایمان راوړلو نه مخکې مونږ په تیاره کې ژوند تیرولو. هر کله به چه مونږ ګناهونه وکړل نو هیڅوک به زمونږ مرسته کوونکی نه وو. خو د مالک عیسی مسیح د قبلولو نه وروسته مونږ د هغه په رڼا کې ژوند کوو او روح القدس مونږ ته همیشه د پاک خدای لار راښیي.

یوحنا ۲: ۳۵ او ۳: ۱۹، ۸: ۱۲، اول یوحنا ۱: ۱، نحمیا ۸: ۱۰.



## پاک خدای سره مینه کوی، که دنیا سره؟

پاک خدای فرمائی چه یو مسیحي باید خپلې پخوانې طریقې پریږدي او دنیایی څیزونو سره دې مینه نه کوي. د هر مسیحی دې په آسمانی څیزونو باندې فکر وی. هغوی د خدای په ښودل شوو لارو عمل کوي او پاک خدای د هغوی ټول ګناهونه ښښي. یو مسیحی ته هم حرامکاري، جنګ، غلا، چپاول، بت پرستي یا قبر پرستي کول نه دی پکار بلکه هغوی ته د عیسی مسیح په ویناوو عمل کول پکار دی.

دویم کورنتیان ۵: ۱۷، افسیان ۴: ۲۲، اول یوحنا ۲: ۱۵، کولوسیان ۳: ۲، اول سموئیل ۱۲: ۱۷.



## مسیحي کورنۍ له یو بل سره مینه کوی

یو مسیحي کورنۍ ته د پاک خدای د کلام په مطابق ژوند تیرول پکار دي. یو مسیحی خاوند دې باید خپلې ښځې سره مینه کوی. یوه مسیحي ښځه دې باید د خپل خاوند عزت کوی. ښځه او میړه دې باید د یو بل سره مرسته وکړی. د خپلو ماشومانو په پالنه کې باید د یو بل سره همکاری وکړی. هغوی ته دې د عیسی مسیح په باره کې معلومات ورکړی چه هغوی د مسیحي ژوند ته شهادت ورکړی.

کولوسیان **۳**: **۱۹**، افسیان **۵**: **۲۲**، اول پطروس **۲**: **۷**، استشنا **۲**: **۵-۷**، عبرانیان **۱۰**: **۳۵**.



## خپلو ګاونډیانو، دوستانو او دښمنانو سره مینه کوئ

خدای پاک زمونږ په ذریعه له نورو سره مینه کوي. کله چه مونږ خپل ځانونه د ګناهونو نه پاک کړو نو بیا به د پاک خدای مینه مونږ کې راشی. بیا خدای زمونږ په ذریعه نورو سره مینه کوی ځکه چه مونږ د خپل ذات په مطابق نورو سره مینه نشو کولی. محبت کول نورو باندې مهربانی ده. پدې وجه یو مسیحی دې خپلو دوستانو او دښمنانو سره ښه سلوک وکړی. په هغوی دې مهربانی وکړی، د هغوی خدمت دې وکړی او نور خلک دې له خپل ځان څخه بهتر ګڼې.

متی ۵: ۱۲، ۴۴، افسیان ۴: ۳۲، اول یوحنا ۳: ۱۷، لوقا ۱۰: ۲۷.



## بت پرستي او قبر پرستي ختم کړۍ

جادو کول، تعویذ کول، بت پرستي او قبر پرستي بې ګټې کارونه دي. په پیرانو اعتبار مه کوی. خدای پاک د دې ټولو څخه قدرتمند دی. ټول څیزونه پریږدۍ یوازې په خدای اعتماد ولرۍ. هغه هر څه کولی شي. عیسی مسیح ویلي دي چه: "تاسو د دو مالکانو خدمت نشی کولی." د ناروغتیا، غم او کړاو په وخت کې په قوي ایمان سره یوازی پاک خدای ته دعا وکړۍ. ټول هر څه د خدای په لاس کې دي.

متی ۲: ۲۴، یشعیا ۴۲: ۱۷، دویم کورنتیان ۲: ۱۷، اعمال ۱۹: ۱۸-۱۹، زبور ۱۳۹: ۲۳.



## د عیسی مسیح په نوم پیریان تښتي

یو سړی د پیریانو په قبضه کې وو ، حضرت عیسی له هغه څخه هغه ناپاک روح لرې کړو. عیسی هغه سړي ته وویل چه خپل کلي ته بیرته لاړ شه او هغوی ته ووایه چه پاک خدای تا ته څومره لوی کار کړیدی. مالک عیسی مسیح د ناپاک روحونو او ټولو شیطانی قوتونو نه ډیر قدرتمند دی. هغوی د عیسی مسیح د نوم نه ویریږي او لرې تښتي. پدې خاطر که چیرته ناپاک روح تاسو ته تکلیف درکوي نو هغوی د عیسی مسیح په نوم له ځان څخه لرې کړی او د عیسی مسیح جلال وروښیی. ځکه چه پیریان هم د هغه حکم مني.

مرقوس ۵ : ۲-۴، متی ۸ : ۱۲ ، یوحنا ۸ : ۳۲، کولوسیان ۲ : ۱۵ ، اعمال ۱۲ : ۱۸ ، اول تیموتیوس ۱ : ۱۷ .



## پاک خدای زمونږ ټول ضرورتونه پوره کوي

د شیطان مقصد دا دی چه انسان په دنیایي څیزونو باندې مصروف وساتي. لکه سره زر، ښځه او جایداد، د خدای په ځای د دې څیزونو په باره کې فکر او خیال لرل یعنی پاک خدای پرېښودل دي. د دې لپاره عیسوي مذهبه خلک د شیطان خبری نه اوري، او هیڅکله د هغه په آزمایښت کې نه لوېږي. ځکه مسیحیان پوهېږی چه عیسی مسیح د هغوی ټول حاجتونه او ضرورتونه پوره کوي.

اول تیموتیوس ۲: ۹، ۱۷، کولوسیان ۳: ۲.



## که چیرې مونږ توبه وکړو نو پاک خدای به مونږ وبخښي

حضرت عیسی د یو زلمی کیسه بیانوله چه د خپل جایداد ټوله برخه یې په عیش او عشرت کې برباد کړې وه. کله چه پیسې ورسره خلاصې شوې نو بیا ورسره د خپل ځان احساس پیدا شو. او بیرته خپل پلار ته راغلو او د خپلو ګناهونو اقرار یې وکړو او له پلار څخه یې ښښنه وغوښته او ویې ویل چه زه د دې وړ نه یم چه ستا زوی شم. بیا یې پلار هغه معاف کړو او په خپله کورنۍ کې یې د شمول حق ورکړو. که چیرته مونږ هم د خپلو ګناهونو اعتراف وکړو نو هغه به مو وبښي.

یشعیا ۴۴: ۲۲، اول یوحنا ۱: ۹، عبرانیان ۱۰: ۱۷، لوقا ۱۵: ۷، ۱۰.



## حضرت عیسی ناروغانو ته شفا ورکوي

هر څوک ناروغه کیږي، زیات خلک پدې وجه ناروغه کیږي چه د خپل بدن ساتنه نه کوي او کله کله د شیطان د لارې په اختیارولو هم انسان کې ناروغی راځي. د دې ناروغی په وجه تاسو کوم ښه ډاکټر او یا روغتون ته لاړ شئ. ځکه چه خدای دا ځایونه تاسو ته د شفا در کولو د پاره استعمالوي. نیم حکیم یا پیرانو مه ورځئ. که چیرته تاسو ناروغه یې نو حضرت عیسی ته دعا وکړئ، هغه به تاسو ته شفا درکړي. د کوم جادوګر او یا زیارت څخه مرسته مه غواړئ. عیسی مسیح د ناروغانو دعاګانې اوري او هغوی ته شفا ورکوي.

دویم سلاطین ۲۰ : ۵، ۷، او ۱ : ۲-۳، متی ۸: ۱۲، لوقا ۱۰ : ۹، اول کورنتیان ۱۲ : ۹، اول پطروس ۵: ۱۰.



## ایمان لرونکي به د پاک خدای سره وی

ځوک چه په عیسی مسیح باندې ایمان لري. د مرګ نه وروسته د هغه روح آسمان ته ځي. ځکه چه مالک عیسی مسیح د هغه ګناهونه له پخوا نه د خپلې قربانۍ په واسطه پاک کړیدي. او ځوک چه په عیسی ایمان نلري. له مرګ نه وروسته به د هغه روح ته د اور سزا ورکول کیږي. ځکه چه هغه به تر اخر وخته پورې په ګناه اخته وي. آیا د مرګ نه وروسته به تاسو چیرته ځی؟ که چیرته عیسی مسیح له تاسو نه نوی انسانان جوړ کړي وی، او ستاسو ګناهونه یې په خپل ځان اخستی وی. نو بیا تاسو ته د ویرې هیڅ ضرورت نشته. ځکه چه ایمان لرونکي له هیڅ شي نه نه ویریږی.

عبرانیان ۹: ۲۷، مکاشفه ۱۴: ۱۳، اول تسالونیکیان ۴: ۱۳، ۱۲، زبور ۲۸: ۵.



## هر مسيحي د عيسی مسيح د بدن يوه برخه ده

زمونږ د بدن هره يوه برخه خپل خپل کارونه کوي. سترګې ليدل کوي، په خوله خوراک او خبرې کوو، او په غوږونو اورو. او د هرې يوې برخې کار جدا جدا دی. د يوې برخې کار کم او د بلې ډير وی. که چيرته يو برخه په درد شي ټول بدن ور سره نا آرامه وي. هر ايمان لرونکی د عيسی مسيح د بدن د يوې برخې په مثال دی. هر ايمان لرونکی خپل کار سر ته رسوي. د مثال په ډول شهادت ورکول، روحانې سندرې ويل او نور خدمت کول، خو هر ايمان لرونکی د عيسی مسيح د پاره کار کوی. او د هغه د پاره خپل ځان هم ورکوی.

اول کورنتيان ۱۲: ۱۴-۱۸، ۲۲-۲۷، افسيان ۴: ۱۲، يوحنا ۱۵: ۱۴.



## په ګډه دوستي او عبادت کوئ

د مسیحیانو لپاره ضرور ده چه په ګډه سره د خدای عبادت وکړي، دعا وکړي، روحاني سندرې ووايي او د پاک خدای کلام ته غوږ ونيسي. د پاک خدای د کارونو لپاره صدقې ورکړي! لږ تر لږه په هفته کښې يو ورځ دې دوی په يو ځای عبادت وکړي. هره ورځ دې په کور کې دعا ګانې وکړي. د خدای په مانښام کې شريکيدل، د مسيحي دوستي يو اظهار کول دی.

اول پطروس ۲: **۵**، فليمون ۲، کولوسيان **۳**: **۱۲**، اول کورنتيان ۱۱: **۲۳-۲۶**، متی ۱۸: **۲۰**، عبرانيان ۱۰: **۲۵**.



## حضرت عیسی مسیح به د عدالت لپاره بیا راځي

حضرت عیسی به دې دنیا ته بیا راځي. هیڅوک نه پوهیږی چه دا به څرنګه او څه وخت وي. مونږ ته پکار دي چه هر وخت د هغه د راتلو د پاره تیار اوسو. عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته ویلی وو چه... "زما د پلار په کور کې تاسو لپاره ډیر ځای شته... زه ځم چه تاسو لپاره ځای تیار کړم او کله چه زه ستاسو د پاره ځایونه جوړ کړم نو بیا به زه ستاسو بوتللو د پاره راشم. ځکه چه زه چه چرته یم چه تاسو هم ماسره یی." آیا که چیری عیسی اوس راغلو نو تاسو هغه سره د تللو د پاره تیار یاست؟

یوحنا ۱۴: ۱-۳، متی ۲۴: ۴۲ او ۴۴، اول تسالونیکیان ۴: ۱۲-۱۷.



## هر مسيحي ته به روحانی ميوه ورکړ شي

مونږ د ميوه لرونکې ونې نه د ميوی هله لرو. مقدس کتاب وايی هغه ونه چې ميوه نه کوي. نو هغه به کټ شی او وبه سوزول شی. حضرت عيسی له هر مسيحي نه د يوې ښې ميوی هيله کوي. روح القدس ستاسو په ژوند کې د خوشالی، نيکۍ، مرسته کولو، ښه ايمان لرلو او پاکوالي لپاره کار کوي. څوک چه په عيسی مسيح ايمان لري. يقيناً چه هغه به ښه ميوه پيدا کوی!

متی ۷: ۲۰، ګلتيان ۵: ۲۲-۲۳، يوحنا ۱۵: ۲-۴، ۹، ۱۲.



## څه مو چه واوريدل نورو ته يې ووايی

حضرت عيسی مسيح حکم کړيدی چه هر مسيحي دې نورو خلکو ته د هغه په باره کې معلومات ورکړي. هر څوک چه د خپلو ګناهونو اعتراف وکړي او په عيسی مسيح ايمان رواړی، نو د هغه ګناهونه به وبښل شی. او هغه ته به يو نوې ژوند ورکړ شی. په تصوير کې مونږ داسې يو سړی ګورو چه د عيسی مسيح په حکمونو باندې عمل کوي. تاسو هم نورو ته د مالک عيسی مسيح په باره کې معلومات ورکوی.

متی ۲۸: ۲۰، مرقوس ۱۲: ۱۵، يوحنا ۱۲: ۳۲.



# BASIC BIBLE TEACHING

Full-coloured illustrations on each page with a short, clear message and scripture references for more teaching.

The first 20 pages are important events in the Bible.

The last 20 pages are guidelines for Christian living.

Charts and script cassettes are available as teaching aids.

# د مقدس کتاب بنیادی تعلیم

په هر صفحه کې رنګین تصویرونه او د لوستلو د پاره مختصر پیغام د مقدس کتاب نه حوالې ورکړی شوی دي.

په وړومبیو ۲۰ صفحو کې د مقدس کتاب خاص واقعات بیان شوی دي

په آخری ۲۰ صفحو کې د مسیحی ژوند تیرولو دپاره هدایت لیکل شوی دي.

د دې کتاب د مدد د پاره د اردو کیسټې او چارټونه موجود دي.